نورمحمد غفوري

# د ګوندونو د مالي چارو تنظيم

## (دوهمه برخه)

ګوندونه او دموکراتيک نظامونه يوله بله سره تړلي او د يوې سکې دوه مخه دي. بې له دموکراتيک نظامه د ګوندونو فعاليت غير محتمل او بې له ګوندونو دموکراسي د تصور وړ نه ده. د دموکراتيکو رژيمونو پلويانو ته د ګوندونو د فعاليت په اړه هر اړخيز معلومات ضروري دی. د همدې تشې د ډکولو له پاره مې په ګوند کې د مالي چارو د قانوني بنسټ او چوکاټ په اړه ددې ليکنې په لومړي برخه کې (چې مخکې نشر شوه) خبرې وکړی. د ليکنې په دې برخه کې به په ګوندي فعاليت کې د مالي چارو په اهميت او دګوندونو سره د دولتونو په مالی ملاتړ بحث ولرو.

### 3) په ګوندي فعاليت کې د مالي چارو اهميت:

هر سياسی، ټولنيز او کلتوري فعاليت يو اقتصادی لوری (بُعد) لري چې د هغو د تکميل او تنظيم پرته به دا فعاليت غيرعملي، نيمګړي، ستونزمن او ناکامه وي. ګوندونه هم د خپل فعاليت د سم پرمختګ له پاره مادي او مالي سرچينو ته اړتيا لري. د ګوندي طرحه شوو موخو په لور د ورتګ د چټکتيا له پاره د ګوندی غړو او مينه والو (بشری سرچينو) او د ګوندي غړو د استعدادونو، مسلکي پوهې، تجربو او ابتکارونو (غير محسوسو سرچينو) دښه تنظيم او مديريت تر څنګ د ګوند د مادی ملکيتونو (فزيکی منابعو) او مالي چارو (مالي سرچينو) سم او مناسب منجمنت هم غوره رول لوبوی. د ګوندي فعاليت د ښه پرمختګ له پاره لکه څنګه چې د مادي او مالي سرچينو چمتو کول او د ګوند د غړو او کارمندانو په اختيار کې ايښودل اړين دی، په همدې توګه د هغو سم او پر ځای مصرف، د اسراف څخه ډډه، د فساد او ناوړه ګټې مخنيوی او پرهغو باندې منظم او دوامداره کنترول هم ډير ضروري دی.

ګوندونه او په سر کې يې رهبري ارګانونه هڅه کوي او بايد زيار وباسي چې د ګوندي فعاليتونو له پاره ضروری مادي وسايل او د اړتيا وړ پيسې له مشروعو او قانونی لارو برابرې کړي. د ګوند ټولو غړو او په تيره بيا ګوندي رهبرانو ته لازمه ده چې د خپلو مادي او مالي وسايلو څخه له قانون سره سمه ګټه پورته او د غلا، فساد، غير ضروري او غيراقتصادی مصرفونو مخه ونيسي. د ګوندي شتو څخه په شخصی ګټه کار اخيستل د فساد اود ګوندي منافعو سره د بيغوری او خيانت نښانه ده. د ګوندي واکمن ارګان له پريکړې او خبرتيا پرته د شخص کورته د دفتر د نويو او مستعملو لوازمو وړل، د اوږدې مودې له پاره ساتل او له هغو څخه په شخصی او کورنيو چارو کې کار اخيستل غلا او يا غلا ته ورته عمل دی. د داسې عمل د انجام په صورت کې نه يوازې چې مفسد او غل ملامت دی، بلکې پخپله د چارو مديران هم ملامت دي چې د چارو سم مديريت نه شي کولای. د چارو د مستقيمو مسئولينو تر څنګ د رهبری غړي او د واکمن ارګان ماهران هم بايد خپله قانونی او اصولي دنده اجرا کړي. د ګوند غړی هم د مالي چارو په اړوند د پوښتنې، نظر، وړانديز او انتقاد له لارې خپل مسئوليت ادا کولای شی او بايد خپل غږ پورته کړي.

د مادي او مالی وسايلو د مديريت له ډول څخه د ګوندي رهبرانو د منجمنت او رهبری استعداد هم څرګنديږي. يا په بل عبارت سره ويلای شو چې د مادي او مالی منابعو مديريت د ګوندی رهبری له غوره دندو څخه شميرل کيږي او د هغو په څرنګوالي کې د ګوندي رهبرانو مديريتی مهارت هم ځان ښکاروي. ښه او مستعد ګوندي رهبران د خپل ګوند مادي او مالي چارې هم غښتلي کولای او هم ښې اداره، تنظيم او مديريت کولای شي.

ګوندي مسئولین مکلف دی چې د ګوند د فعالیت له پاره دفترونه، موبل او فرنیچر، ترانسپورټي او تخنیکی وسایل، ګدامونه او همدا راز د اقتصادی فعالیت شرایط، وسایل او اسباب پیدا کړی او هغه سم تنظیم او ترې لازم مواظبت وکړي. ګوندونه باید په ننني شرایطو کې خپله اداره د نویو تخنیکی او معلوماتی وسایلو پر بنسټ جوړه کړي، د غړو او کارمندانو تخنیکي مهارتونه او ظرفیتونه لوړ بوزی او د همدغو اړتیاوو له په نظر کې نیولو سره سم، مدرن او عصری تخنیکی وسایل او د هغو مطابق د کار فضا، چاپیریال او شرایط برابر کړي. دا ټول پیسو او مالی امکاناتو ته اړتیا لری.

د ګوندی رهبرۍ مسئولیت او دنده ده چې د ګوندي فعالیتو له پاره د عوایدو سرچینې ولټوي، له ګوند سره د مرستو له مینه والو کسانو او ارګانونو سره اړیکې ونیسي، د اقتصادی تشبثاتو له پاره وسایل، کادرونه، شرایط او موقع برابره کړي او د قانون په پولو کې د رهبرۍ او د ګوند د ټولو غړو له نوښتونو، نظرونو، وړاندیزونو او امکاناتو ګټه واخلي. ډیر ځله داسې پیښه شوی چې د ګوند د غړو، د رهبری ارګان د غړو او د ګوند د مینه والو وړاندیزونه د رهبر او د پیسو د ساتونکو شخصیتونو لخوا له ارزونې او غور تر مخه رد شوی دی، ځکه چې هغوی ګوندی پیسې په شخصی کارونو کې بندې اچولې او ترې را ایستل یې ورته ستونزمن دي.

په ځینو ګوندونو کې د مالی او مادي چارو تقویې ته پوره او لازم پام نه ور ګرځي. د ګوندي فعالیتونو تمویل یوازې د غړیتوب په ونډه ور اچول کیږی چې هغه هم په منظمه توګه نه راټولیږي. د مالي چارو کمیسیون یې په مصلحتی معیارونو له غیر مسلکی افرادو او د ګوند مشر ته د نږدې کسانو جوړ شوی وی. په ځینو ګوندو او ځینو وختو کې د ګوند د مشرتابه له پاره د ګوندي مالی بنسټ تر غښتلتیا، د منابعو پخپل لاس کې نیول، پر هغو انحصار او په خپله خوښه ګټه اخیستنه زیات اهمیت لري. په داسې حالاتو کې که د ګوندي غړو لخوا د ګوند په مالی بنسټ د ګټور تشبث وړاندیز هم وشي، د ګوند مشر یې په دې خاطر ردوی چې ورسره موجودې پیسې یې له واک او اختیاره ونه وزي.

په ځینو ګوندونو کې د ګوندونو د قانون او مروج طرزالعمل پر خلاف د ګوند نقدې پیسې د رهبرانو او یا نورو افرادو په شخصي جیبونو او پخپلو بانکي حسابونو کې ساتل کیږی چې نور ګوندي غړی او ان د اجرائیه شورا، دارالانشأ او مالي کمیسیون غړی نه پرې خبریږي او نظارت او کنترول ورباندې نه لری. ځینې ګوندي مسئولین بیا د ګوند پیسې د ګوندي واکمن ارګان له پریکړې پرته د خپلوانو په شرکتونو، د اولادونو په ودونو او د خپل کور د چارو په جوړولو او سمون کې په کار اچوي چې ګټه یې پخپله خوری. د ګوند له پاره مرستې په نقدي توګه پخپل لاس اخلی، د اعانې ورکوونکي ته رسید نه ورکوي او نورو ګوندی غړو ته یې هم حساب او کتاب نه ښکاروی. ګوندی غړي او ان د ګوندي رهبرۍ او د مالی کمیسیون غړي هم ترې خبر نه دی چې چا څومره پیسې اعانه ورکړې، دا پیسې چیرې دی، څومره دي او آیا راکدې پاته او که په کوم تشبث کې په کار لویدلی او ګټه راوړي؟ د ځینې ګوندونو رهبرانو چې د ګوند پیسې یې پخپلو شخصی کارونو کې بندې کړې وی، نه غواړي چې له لاسه یې ووزي نو ځکه د ګوندي غړو لخوا د مالي چارو د غښتلتیا او قوت په خاطر د هر اقتصادی تشبث وړاندیز او ابتکار تر ارزونې او بحث د مخه په نطفه کې رد او غلی کوي. که دې ډول چلند ته دقیق ځیر شو، په حقیقت کې د ګوند د مالی چارو له غښتلتیا سره جفا، د ګوندي فعالیت د ضعف عامل او د ګوند له ګټو سره ستره بې پروایی ده.

ځینې نور ګوندی رهبران بیا د ګوندی مالی بنسټونو د ِغښتلتیا له پاره له کار او ابتکاره محروم دي. د هغه ګوند رهبري چې د مالي چارو له پاره د تخصصی ماهرانو کمیسیون نه لري، د ګوندي عایداتو په اړه ژور فکر نه کوي، د ګوند د اقتصادی او مالي پیاوړتیا په اړه د ګوند د غړو او یا ګوندي سازمانو ابتکار نه کاروی او یایې نه شي تشویق او تحریکولای، هر وړاندیز مخکې تر دې چې د مسلکی ماهرانو د ګروپ لخوا تر غور لاندې ونیول شی، ردوی؛ په اصل کې یا د غرض له مخې د

مالي چارو د تقويي او د هغو د روښانه مديريت قصدی مخنيوی کوي او يا د چارو د تنظيم پوهه او وړتيا نه لري. نه يوازې د ګوند رهبران او د رهبري ارګان غړي، بلکې د ګوند ټول غړی بايد د ګوند د فعاليت په تمويل کې برخه واخلی او همدا شان د ګوندي مالی بودجې په عايد او مصرف باندې د نظارت او کنترول حق او عملي چانس ولري.

د فزيکی منابعو د ښه منجمنت لومړی ګام دادی چې هغه ټول منظم راجسترشي، د قانون سره سم د ګوندي ملکيت په چوکاټ کې راشي او هيڅوک يې د شخصی تصاحب او خصوصي مالکيت دعوا ونه شي کولای. د اشخاصو په نوم د ګوندي فزيکی منابعو ثبتول، د افرادو په کورونو کې ساتل، د خپلو کورنيو په غم او ښاديو او نورو شخصی چارو کې ترې ګټه اخيستل، هغه د خپلو اولادونو او شخصی ملګرو په لاس ورکول او داسې نور په حقيقت کې مالي فساد دی چې مخه يې بايد کلکه ونيول شي. څرنګه چې ګوندونه دموکراتيک سازمانونه دي او په دموکراتيکو سازمانو کې پريکړې جمعی وی، نو ځکه پر فزيکی منابعو او نغدو پيسوهيڅ ګوندي غړې او رهبر د **قانونی لحاظه** د شخصی ملکيت دعوا نه شی کولای، هغه خپل کورته د مصرف له پاره نه شي وړای، هغه پرخپل سر چاته نه شي ډالی کولای، نه يې شي خرڅولای او پيسې يې پخپل جيب کې نه شي اچولای.

د ګوندي بودجې اندازه، تصنيف او ويش د ګوندي فعاليتونو پر عمومي حجم، پراخوالي او تنوع اغيزه کوي او په ټاکلي لوري کې د هغوی د چټکۍ او په کوم بل طرف کې د سستی سبب ګرزي. د ګوندي بودجې د ويش په واسطه د روځنيو اړتياوو سره د ګوندي فعاليتونو تعادل برابرېږي. هلته او په هغه ډګر کې چې د فعاليت زياته اړتياوی، د زياتې بودجې تخصيص ورکول کيږی. که ګوند د خپلو فعاليتونو له پاره کافي بودجه ونه لري، کارونه به يې بې اجرا او په ټولنه کې به بې اثره پاته وي. د ګوندي بودجې ويش د يوه شخص او يا څو کسانو ترمنځ د غير رسمی مشورو پر اساس نه کيږی، بلکې ددې کار له پاره د واکمن ارګان رسمی پريکړې او د نورو ارګانونو رسمی خبرتيا ته ضرورت وي.

د ګوند پيسې او د ګوند مالي چارې د ګوندي فعاليتو د تنظيم له اساسی فکتورونو او همدا راز د ګونديانو تر منځ د جنجالونو او بې باوريو د را پيداکيدو له غوره عواملو څخه هم شميرل کيږی. د ګوندي مالي چارو سم تنظيم ته پام ورګرزول ډير اړين دی او بايد د يوه مشخص، دموکراتيک او د حساب پر مسلکی بنياد ولاړ طرزالعمل له لارې د قانون په پولو کې تنظيم شي. هغه ګوندونه چې د قانوني حاکميت او د قانون د پلي کيدو پلويان ځان بولي، بايد تر هرڅه د مخه پخپل ځان قانونيت پخپله خوښه تطبيق کړي. د کمو ګوندي ګټو او څو پيسو له پاره بايد قانون تر پښو لاندې نه کړي. ګوندي مالی چارې بايد په عملی بنستونو ولاړې وی. په مالي چارو او ټول ګوندي فعاليت کې د فساد او تقلب مخه بايد په ټينګه ونيول شي.

کله چې دولت د قانون سره سم له ګوندونو سره د انتخاباتو په وخت کې مرسته کوی، ګوندي رهبران بايد هغه په پټه او چوپه خوله په خپلو جيبو او بانکو کې وانه چوی او يا يې پخپله خوښه د ګوند د فعاليت له پاره مصرف نه کړي، بلکې هغه علنی کړي، ګوند ورباندې خبر او پوه کړي، په ګوندي بانکي حساب کې واچول شي او بيا بيرته د مصرف له پاره د ټاکلی طرزالعمل مطابق را وايستل شی. که چيرې له ګوندونو سره دولتي مرستې هم موجودې وي، دوی بايد ځانونه او خپلې مالي سرچينې يوازې پر هغو پورې محدودې نکړي، بلکې د خپلو فعاليتونو د ښه انجام له پاره د قانون په پولو کې نورې عايداتی سرچينې هم ولټوی او په کار واچوي.

د مالی سرچينو د موندلو او له هغو څخه د ګوند د مالي بنسټ د غښتلی کولو له پاره د ګوند د مرکزی لارښود ارګان لخوا معين تدابيري پلان، د دندو ويش، له هغو مواظبت او د غړو تشويق، په درې مياشتو، نيم کال او د هر کال په پای کې د هغو ارزونې، د راپور اخيستلو او د بهير کنترولولو ته اړتيا

شته. دا کافي نه ده چې د ګوند رئیس خپلو غړو ته له خپله ځانه او هوایی خبرې وکړي او ورته ووایی چې «د مالي چارو د تقویې له پاره کار وکړئ!» او نوره نو خپله دنده اجرأ وګڼي. د ګوند رئیس او د مرکزی مالي چارو مسئول باید د ګوند غړو او ولایتی مسئولینو ته پخپله یوه نمونه وی او ورته عملي لارښوني وکړي.

ګوند ته ښایی چې پخپلو مالي مصارفو کې د دولت او حکومت له مرستو خپله آزادي وساتی، د ګوند ټول ارګانونه د ګوندي بودیجې څخه د اړتیا په وخت کې د کارولو او ګټې اخیستلو برابر چانسونه ولري. ګوندي چارې باید داسې تنظیم شی چې د دولتی موظفو او څارونکو ارګانو، د ګوندي غړو او د مالي چارو د ماهرانو له پاره روښانه او د پوهې، ارزونې او کنترول وړ وي.

لنډه داچې د ګوند د مالي چارو مدیریت چې د ګوندي رهبری او د مالي چارو د کمیسیون د فعالیت غوره برخه جوړوی، دا معنا لري چې د ګوندي فعالیت له پاره هر ډول مالی منابع له قانوني لارو او د قانوني مقرراتو په چوکاټ کې ولټول شي، د هغه د جذب له پاره ابتکار وشي، د هغو د ساتلو ډاډمنې او قانوني لارې تشخیص شی، د مصرف ځای یې وپیژندل شی، په دې ټولو پروسو باندې اکټیف نظارت او څارنه وشی، د مصارفو مؤثریت تحلیل شی او ددې ټول فعالیت راپور د قانونی مرحلو له په نظر کې نیولو سره داسې مستند، معقول، کامل، صریح، پر واقعیت ولاړ او د قانون او ګوندي اړتیاوو له په نظر کې نیولو سره سم جوړ کړل شي چې د هر اړوند لوري او ارګان پوښتنو ته ځواب وویلای شي. دا ډیره ښه او غیزمنه لار ده چې ګوند ته د اعاني ورکوونکی حقیقی او حقوقی شخصیت پوه او ډاډمن شی چې دده له مرستې چیرته او په کوم کار کې ګټه اخیستل شوی ده. دا ډول تعامل د ګوند د راتلونکی مادی اړخ د غښتلتیا له پاره ښه رول لوبولای شي.

**د ګوندي مالي چارو له رپوټ او په دې اړه له معلوماتو سره مینه وال لوري ډیر دي:**

د مالي او مادی چارو په اړه له ګوندي رپوټ سره د **ګوند ټول غړي** او په تیره بیا **د رهبري ارګانو غړی** مینه وال دي. د ګوند هرغړی غواړي چې د ګوند د مالی وضعیت په اړه معلومات ولري. دا معلومات د هغوي اړیکې له ګوند سره ټینګوی او د تشویق او ترغیب سبب یې ګرځي. د رهبری ارګانو غړی د قانون په وړاندې د مالي چارو د سم مدیریت مسئولیت لری، نو ځکه باید ترې خبر او په رښتینتیا یې باورمند وي چې هم یې قانوني مکلفیت او هم یې وجداني مسئولیت سرته رسولی وي. **د مالیې وزارت** او د هغو اړوند ارګانونه هم د قانون پر بنسټ د ګوند د مالي چارو راپور غواړي. **د عدلیې وزارت** او د هغه اړوند ارګانونه هم د ګوند د مالي چارو د راپور د شته والی سره د علاقې یو لوری دی. هغه **حقیقي او حکمي شخصیتونه** چې د اعانو له لارې له ګوند سره مالی مرسته کوي، هم په ډیرو علتونو د داسې مستند او قانونی رپوټ له موجودیت سره مینه لري؛ هغوی غواړي چې د خپلو مرستو د هدفمند استعمال څخه ډاډمن شی، د ګوند د ټولو غړو او د هغو د مینه والو سمپاتي د ځان په خوا را واړوي، په ټولنه کې هم په ښه نامه شهرت ومومي او د اړتیا په وخت کې یې د مالیې بار سپک شي. که چیرې ګوند له **بانک** او یا کومې بلې مالي مؤ سسې سره مالی معاملات ولری ، پور یې ور څخه اخیستی وی او یا یې د اخیستلو نیت لري، هغه هم همداسې یوشفاف او مکمل راپور غواړي. د **ټولنې** له پاره او په جامعه کې د ګوند د حیثیت د لوړلو له پاره هم دا مهمه ده چې خپل مالي مؤثق راپور وړاندې کړي او په دې اړه شکونه چې ګوند د خارجي منابعو په پیسو چلیږی او یا دې ته ورته نورو تورونو او پوښتنو ته هم ځواب ووایی، د ګوند په د ننه کې د فساد د نشتوالی ثبوت وړاندې کړي. لنډه داچې د ګوندی مالي چارو روڼ او پر واقعیت ولاړ کلنی مالی رپوټ بر سیره پردې چې قانوني او اساسناموي مکلفیت دی، د ګوند ډیر تیاره اړخونه خلکو او د ګوند غړو ته روښانه کوی، ډیرو پوښتنو ته پخپله ځواب وایي، د ګوند پرضد د منفی تبلیغاتو دفع او مقابله کوي او د تبلیغ او اشتهار دنده، **هغه** هم په اوسنیو کړکیچنو او له بې باوریو ډکو حالاتو کې ډیره ښه اجرا کولای شي.

## 4) د ګوندونو مالي چارې او دولتي ملاتړ:

په دموکراسی کې سیاسی ګوندونه د دولت او ملت ترمنځ د اړیکو د مزي او د دواړو لورو د پیوستون د پله رول لوبوي. ددې له پاره چې ګوندونه خپله دنده ښه اجرا او فعالیت سم پر مخ بوتلای شی، باید د اړتیا وړ مالي امکانات په لاس کې ولري. دولت باید پردې مالی منابعو خبر وی، هغه تر نظر لاندې ولري او دا یقین موجود وی چې د ګوندونو مالي منابع د غیر مشروع کانالونو له لارې نه برابرېږي. که د ګوندونو مالی منابع د بې قانونه او قاچاقي لارو برابر شی، ددې امکان شته چې په ګوند او په تیره بیا په ګوندي لاربښودو ارګانونو کې شتمن کسان او قشرونه او یا خارجي لاسونه د پیسو او رشوتو په زور نفوذ وکړي او د خپلو اصیلو اهدافو څخه یې منحرف کړي. ګوندونه د ټولګټو موسسو په لړ کې راځي او دولت یې باید د فعالیتونو د تمویل له پاره قانونی تدبیرونه ونیسی. که دولت ګوندونو ته پام ونه کړي او هغه یوازې پرېښودل شی چې د ګوندیانو د عضویت د ونډو او د ګوند دتشبثاتو له لارې تمویل شی، دا امکان شته چې هغه په داسې شرکتونو واوړي چې د فعالیت غوره هدف یې عامه خدمتونه نه، بلکې اقتصادی ګټه وي. په دې حال کې کیدای شی چې ګوندونه ددې پرځای چې د غریبو ولسونو او ملت ګټو ته د خپلې عقیدې پر بنا وفادار پاته شی، د شتمنو کړیو په واک او انحصار کې ولویږی. ګوندونه باید په ټولنه کې ژوري ريښې ولری، د حکومت او شتمنو خلکو د خدمت په آله او وسیله وانه وړي، د خارجي استخباراتو له نفوذه وساتل شي، نو باید چې مالي چارې يې روښانه او شفافي وی. په همدې خاطر دی چې په پرمختللو دموکراسیو کې دولتونه د عامه شتمنیو له لارې تر ټاکلي حده د ګوندونو فعالیتونه تمویلوی.

ددې له پاره چې ګوند د دولت په تابع سازمان او یوازې د دولتی سیاست د عملی کولو په وسیله وانه وړي، په دموکراتیکو ټولنو کې د عامه شتمنیو (دولتي حمایت) څخه د ګوند د ګټې پورته کولو بیلانس له اجتماعی هغو سره په نظر کې نیول کیږي او د ګوندونو استقلالیت ساتل کیږي. که د یوې خوانه باید دا په نظر کې ونیول شي چې د دولتی مالی حمایت په واسطه د ګوند سم فعالیت تأمین او تضمین شي، له بله پلوه دا هم په نظر کې نیول کیږي چې ګوند خپل استقلال له لاسه ورنکړي. دا هغه وخت ممکن دی چې د ګوندونو له پاره د چانسونو برابري او د مالي چارو شفافیت تضمین شي. د چانسونو برابری په دې معنا ده چې دولت له ټولو ګوندونو سره د مالی او پولی حمایت په اړه یو ډول چلند وکړي. دا هغه وخت د ډاډ وړ ګرزي چې د ګوندونو مالي چارې روښانه وي. ګوندونه باید کال په کال دا حساب رسما او علنا ملت او دولت ته وړاندې کړي چې د دوي مالی منابع او د مصرف وجهې چیرې دی، له کومه ځایه پیسي راغلي او په کومو شیانو کې یې لګولی دي. ګوندونه باید له خپلو غړو، مینه والو او خلکو دا پټه نکړي چې د دوی د عوایدو منبع کومه او له مادی او مالي منابعو یې څنګه ګټه اخستل شوې؟ دا باید څرګنده وي چې ټاکلی ګوند د چا لخوا حمایت کیږی؟ همدا شان د ګوندي مالي منابعو مصرف باید د قانون مطابق او د ګوندي حرفوی کسانو او نورو مامورینو او کارمندانو د معاشونو اندازه باید د هیواد او اړوند ښار او محل په نورمال چوکاټ کې وي. هر چاته د کار په مقابل کې مناسب معاش ورکړل شي، نه داسې چې رئیس او نور رهبران خپلو نږدې ملګرو ته د کم کار په مقابل کې زیات معاشونه منظور کړي. داسې چې ګوندونه او ګوندي رهبران د ګوندونو د مالي بودجې په مصرف کې پخپل زړه نه دي، بلکې د دوی په وړاندې قانونی پولی شته. پر دې سربیره په ګوندي مالي چارو باید د ګوند ټول کادرونه او غړي نظارت ولری او د ګوند رهبری باید د حساب او کتاب داسې لاره غوره کړي چې هر مینه وال غړی یې د لیدو او کنترول امکان ولري. اړوند حسابي او د قانون ساتونکی دولتی ارګانونه هم باید وخت په وخت د ګوندونو مالي چارې د موجودو اسنادو پر بنسټ وارزوي. په ډیرو هیوادونو کې پارلمانونه هم د ګوندونو د مالي چارو دمنظم کولو او په هغو د نظر لرلو له پاره تدبیرونه سنجوی او پارلمانی پریکړې کوي.

په افغانستان کې د سیاسی ګوندونو د قانون د پنځلسمې مادې مطابق سیاسی ګوندونه خپل مالي لګښتونه له لاندې پینځو سرچینو څخه په لاس راوړای او فعالیتونه تمویلولای شي:

۱«-دغړیتوب د حق ورکړه.
۲ -دکورنیو حقیقي او حکمي اشخاصو په واسطه په کال کې تر پنځومیلیونو افغانیو پورې بې عوضه مرسته ورکول.
۳ - دمنقولو اوغیر منقولو مالونو د عوایدو له درکه.
۴ - دټاکنو پرمها ل د دولت مرسته.
۵ – دغړوله خوانورې مرستې»

ګوندونه کیدای شی چې د قانون له مخې د ټولګټو موسسو په شان له مالیو څخه معاف او یا قسما معاف وي او هغه اعانه چې ګوندونو ته ورکول کیږی، د مالیاتی مبلغ له اندازې را کمه شي. البته ګوندونو ته د اعانی د لوړ مبلغ پولې هم د قانون په پاسنۍ ماده کې ټاکل شوې دي. د دولتی او عامه شتمنیو په واسطه له ګوندونو سره مرسته او له هغو حمایت هم په قانونی توګه مشخص او تثبیتیږي. د افغانستان د سیاسی ګوندونو د قانون په همدې ماده کې له ګوندونو سره د ټاکنو پرمهال د دولتي مرستې خبره شوې ده. په ځینو هیوادونو کې بیا په عامه توګه یو معین مقدار مالی امکانات د ګوندونو په اختیار کې ورکول کیږی.

ددې له پاره چې ګوندونه د ځینو داخلي او خارجي کړیو د خاص او اکثرا زیانمن سیاسی تاثیر څخه وساتل شی او په عین حال کې د ګوندونو په داخل کې  د تورو پیسو د سپینولو، د پیسو د پټولو، د مادي امکاناتو د پټو ساتلو او فساد مخه ونیول شي، د ګوندونو د نغدې  اعاني له پاره جدی کنترولی قانونی معیارونو ته اړتیاده چې باید مستند، دقیق او علنی وی او تر ټاکلې قانوني پولې وانه وړي.

**(پای)**